<u>**مطبوعاتي اعلامیه**</u>

**برېتانیایي لېونتوب... د یمن په جنوب کې خلک کوم لوري ته بیایي؟**

په مشق کې د عبدالربي حمدي د کنټرول لپاره د هاني بارک له رابللو وروسته د انتقالي شورا په مشرۍ په شبوه، ابین او عدن ولایتونو کې خونړي زیانونه او اړدوړ تر اوسه دوام لري، له همدې لارې غواړي ابین ولایت، مرکز زنجبار او شقرا او ورپسې شبوه ولایت تر خپلې ولکې لاندې راولي.

خونړي تود اړدوړ هغه وخت زور واخیست چې کله د عربي متحده اماراتو الوتکو په عدن او ابین ولایتونو باندې ۱۰ برېدونه وکړل او په پایله کې د ۲۹/۰۸/۲۰۱۹مه ۳۰۰ کسان ټپي او ووژل شول، لکه څرنګه چې د انتقالي شورا ځواکونو په عدن ولایت کې پرمختګ ته د پای ټکی کېښود او په شبوه ولایت باندې یې خپله ولکه له لاسه ورکړه دوی غوښتل د هادي عسکرو مخه ډب کړي. په سیمه باندې د انتقالي شورا او هادي ځواکونو د ولکې د چټکتیا پر تبادلې اوربېدونکي هک پک دي، وروسته بیا د برېتاینا په څرګندونو پورې تړاو ورکوي چې هادي او انتقالي ځواکونه دواړه د دوی اجیران دي؟

برېتانیې خپله تنده نه ده ماته کړې ـ دوی په تاریخ کې د افسانوي سړي خوړونکو په نوم یادېږي، له هغه وخت راهیسې چې دوی د شاهي نظام ملاتړ کوي د ۱۹۶۲ـ ۱۹۶۸م کلونو تر منځ غواړي د ملي جبهې تر څنګ په ۱۹۶۷م کال کې عدن تر خپلې ولکې لاندې راولي او د یمن د خلکو له وینو ځانونه خړوب کړي، په ۷۰،۸۰، او تېره ۹۰مه لسیزو کې د دوی تنده نه ده خړوبه شوې، دوی تر اوسه پورې د خپلې برګتۍ متحده عربي اماراتو په مرسته وینه تویوي چې په راتلونکو خبرو اترو کې په یمن کې وروسته له دې چې دوی د خپل مستعمره عدن څخه هوثیان وشړل خپل اجیران ډېر کړي.

اې د ټول یمن له شمال څخه نېولې بیا تر جنوب پورې زموږ خلکو: آیا تاسو له شپېتو کلونو راهیسې کافي څه نه درلودل چې تاسو په خونړیو پېښو کې چې سلګونو او زرګونو خلکو پکې خپل ژوندونه له لاسه ورکړ ښکېل یئ چې نه د مسلمانانو ګټه پکې وه او نه هم د اسلامي قانون پیاوړتیا او دفاع، بلکې یوازینی دلیل یې پر تاسو باندې د برېتانیې سیاسي واکمني او د هغوی له ایستلو څخه ستاسو مخنیوی و، د امریکا سیاسي واکمنۍ یې ځای ونیولو.

البخاري، مسلم، النسايي او ابن ماجه روايت کوي چې جرير بن عبدالله رضی الله تعالی عنه وويل: د الله تعالی پيغمبر په حجه الوداع کې له ما وغوښتل چې خلکو ته وواېم چوپ شي، وروسته هغه صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«لَا تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّاراً يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ»**

*ژباړه: تر ما وروسته د يو بل پر وژلو باندې مه کافران کېږئ.*

سنن ابن ماجه له ابو امامه څخه روايت کوي چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«مِنْ شَرِّ النَّاسِ مَنْزِلَةً عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَبْدٌ أَذْهَبَ آخِرَتَهُ بِدُنْيَا غَيْرِهِ»**

***ژباړه:*** *د الله تعالی پر وړاندې به د قيامت په ورځ د خلکو له منځ څخه تر ټولو بد کس هغه څوک وي، چې له دې وروسته د دنيا لپاره آخرت پرېږدي.*

د الله تعالی سپارښتونو او اوامرو ته بېرته راوګرځئ او له هغه څه يې چې منع کړي ياست ډډه وکړئ لکه څرنګه چې الله سبحانه و تعالی تاسو ته وايي:

**﴿إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلّهِ أَمَرَ أَلاَّ تَعْبُدُواْ إِلاَّ إِيَّاهُ ...﴾**

***ژباړه:*** *يعنې حکم پرته له الله سبحانه و تعالی څخه د بل چا لپاره نه دی، چې امر يې کړی د هېچا عبادت ونه کړئ، پرته له ده سبحانه و تعالی څخه....*

تاسو کمونېزم او کپيټليزم په داسې حال کې چې تاسو مسلمانان يئ وآزمويلی، ايا نه غواړئ چې اسلام بېرته د نبوت پر اساس د خلافت په رامنځ ته کولو سره پلی کړو، ايا تاسو دغه غوښتنه منئ؟

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ﴾**

[انفال: ۲۴]

***ژباړه:*** *اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی! د الله سبحانه و تعالی او د هغه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم دعوت ومنئ کله چې تاسو داسې څه ته رابولي چې تاسو ته ژوند دربښي.*

**حزب تحریر-ولایه یمن مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ۰۱ / ۱٤٤۱ -HTY**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د محرم ۲مه**

**۲۰۱۹ م کال، د سپټمبر ۱**